Kandahar. Kabul
Vol.11, No.3, Jawza 1349
(May 1970)



کندهار

اعلیحضرت معظم همایونی دافغانستان محبوب
ټولواک او داستقلال ساتندوی

معظم ټولواك همايونی اعليحضرت دمرحوم علامه استاد سلجوقی پاتوکسانو ته تسليت فرمايلی او شاهانه مهربانی ئی پرو کړه

معظم ټولواك همايونی اعليحضرت دجوزا په ۱۸ نيټه دماښام په شپږ نيمو بجو دعلامه استاد سلجوقی کور ته تشريف فرما شو! او دهغه مرحوم پاتی کسانو ته يی تسليت وفرمايه او په هغوی يی شاهانه مهربانی و کړه په مقابل کی سنا توری حميرا سلجوقی دهغه مرحوم دکورنی په نمايندگی دهمايونی ذات دمراحمو او مهربانيو څخه سپاس گذاری وکړه .

دموردورځی په مناسبت

دعليا حضرتی معظمی ملکی دپيغام متن

بسم الله الرحمن الرحيم

گرانو وطنوالو:

خوشحاله يم چی ددغی مبارکی ورځی له امله ميندواو ټولو گرانو وطنوالو ته مبارکی وايم.

دموردمقام داحترام په غرض دخاصو مراسمو په ځای کول چه د اسلام دمقدسو تعليمونو اوزموږ ملی سپيڅلی ارکانو او مهمو سنتو څخه سرچينه نيسی په حقيقت کښی يی دملی ثقافت ديوی عنعنوی بڼه غوره کړيده.

په ټولنه کښی دموردمثبت نقش اجرا کيدل دکورنی په قانون اوبنسټ کښی دمحور په حيث اودبشری ټولنواودبشريت دعالم دنيکمرغی او بريالتوب په پيدا کولو کښی دبشر دافرادو دلومړنی اوډير اغيزه ناك لارښوونکی په حيث زښت زيات ارځښت لری له همدی کبله ددغو مراسمو په ځای کول ځينی وجائب او وظيفی هم منځ ته راولی.

دموردورځی نمانځل په عين حال کښی ميندی ددوی دوظيفو حساسيت اواهميت ته متوجه کوی له ملی خواده ميندو دوظيفی دبريالی اواغيزه ناك ډول سرته رسيدو په لار کښی دميندو له پاره دبرابری زمينی دمنځ ته راوستلو له لاری دمور مقام په رښتيانی ډول نمانځل کيدای شی.

زموږ ټولو ملی او انسانی وظيفه ده چه دنن ورځی اودراتلونکی وخت دميندو په معنوی، ذهنی او تعليمی وده او ددوی دحالت په ښه کيدلو کی کوښښ وکړو ، ځکه هغه ميندی چه له دغو ښيگڼو په تيره بيا له پوهنی اودښوونی اوروزنی اودکورنی په کانون کښی په زړه پوری فضا په منځ ته راوستلو کښی به ښی بريالی وی

په دی وسيله دوطن داولاد دفردی او اجتماعی سرنوشت په مثبت تنظيم کښی دميندو له ګټور نقش او ددوی ورځينی او سپيڅلی ايثار څخه دخپلی خوشحالی مراتب څرګندوم او له لوی خدای څخه هيله لرم چه ټولو ميندو ته ددوی دملی او بشری ستر ووظيفو اجرا کولو کښی ډير توفيق ورکړی

«دموردورځی په مناسبت او د تفصيل لی په ۱۶ مخ کښی»

دجوزا شپږمه

نيټه

دنړۍ ؤلسونه خپل ژوند په تاريخ کښی ښه ؤ بدی ورځی لری کومی ورځی چی ددوی د افتخار موجب وی هغه همیشه هر کال په هم هغه نيټه نمانځی او دنعمت دشکر دادا ينی په نامه ئی دخوښی اظهار په خاصو مراسمو سره کوی.

افغان ؤلس هم په خپل تاريخ کی داسی څو ورځی لری چی هر کال ئی تلين نيسی او په ويا ړی.

همدغه دجوزا شپږمه نيټه هغه ورځ ده چی موږ ديوه متقدر استعمار ری قدرت او قوت په مقابل کښی دمقابلی جنګړه پورته کړی وه او په دغه ورځ مو پدوی ومنل چی ددی خاوری آزاد مشر به ؤلس دشرافت مرګ ته ترجيح ورکوی نه دا چی داجنبی خلکو تسلط ته غاړه کښيږدی

کوم ټکی چی د لنه دو يا ړنی او قدر وړ دی هغه دادی چی افغان ؤلس په ډير لږ ؤس او خورا کم

د سرمغالی پاته برخه د پښتنی پاڼو د يم مخ کی

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005
6 CONTINUATION 6

اعلیحضرت شهید سعید محمد نادر شاه غازی [رح]
زموږ د هیواد د خپلواکۍ ګټندوی او د وطن ناجی

مرحوم والاحضرت سپهسالار غازی سردار
شاه محمود خان د پیوار فاتح

د کابل فاتح والاحضرت مارشال شاولی خان
غازی چی د خپلوا کی د بیرته ګټلو په معرکه
کی ئی نه هیر یدو نکی خدمتونه کړ یدی

دامتیاز خاوند : د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر : زلمی (بارک)

کندهار

میاشتنی خپرونه

تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹

دیوولسم کال دریمه ګڼه

پرله پسی ګڼه ۱۱۷

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانۍ

دهیواد په داخل کی [۳۲]

په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

د غبرګولی میاشت

۱۳۴۹ لمریز کال

ددې ګڼې مضامین

د ښار نوی پلان	۱ مخ
اصالت وجودی	۲ مخ
د مرحوم استاد علامه صلاح الدین سلجوقی مړینه	۳ مخ
د سولی سندره	۵ مخ
المنفلوطی	۶ مخ
د عشق فلسفه	۷ مخ
د سپوږمۍ په باب نوی معلومات	۷ مخ
میده لیکنی او میده کاری	۹ مخ
هغه نه وه !	۱۰ مخ
د ادب وږمی	۱۱ مخ
شپږ زره کاله پخوا	۱۵ مخ
ممتازه میندی	۱۶ مخ
عجب	۲۰ مخ
د کندهار هغه نادره شعراچی	۲۱ مخ
په کندهار کی په تیرو ۴۹ کلونو کی د پوهنی	۲۳ مخ

د کندهار دولتی مطبعه

دښار د نوی پلان له مخه په کندهار کی

یو پوهنتون جوړیږی

کندهار چی د هیواد یوه اقتصادی سیمه مهم تجارتی مرکز او تاریخی ولایت دی د هغه تاریخی عظمت بیا راژوندی کیږی او حکومت په نظر کی لری چی په شلو راتلونکو کلونو کی دیوه پراخ انکشافی پلان له مخه د نفوسود زیاتیدو په حال کی نوی عرفانی، کلتوری، صحی، تجارتی، صنعتی او عمرانی تاسیسات پکښی جوړ او داسی فعالیتونه په کار واچوی چی دغه ولایت په عصری لحاظ د هره حیثه پر مخ ولاشی خو چی کندهاریان د نورو ولایتونو د اوسیدونکو په څیر د هیواد په پرمختګ، آبادی او نیک مرغی کی پوره برخه ولری او په دغه لار کی د پخوانه زیات او مؤثر خدمت وکولای شی.

اوس هم د هیواد دغه مهم ولایت د انکشافی پلانونو د تطبیق په برکت د پخوانه پر مخ تللی دی په ښار کی عمرانی تاسیسات زیات شوی علمی مؤسسو پراختیا موندلی د چښلو داو و شبکه پکښی غځول شوی مخابراتی شبکی عصری رنګ غوره کړی صنعتی او زراعتی فعالیتونه مخ په انکشاف دی خو ځکه چی د دغه ولایت نفوس ورځ په ورځ زیاتیږی نو د نورو فعالیتونو او نویو تاسیساتو د منځ ته راوستلو په لړ کی په نظر کی دی چی یو پوهنتون هم پکښی جوړ او د دغی سیمی نژدې ولایتونو نجونو او هلکانو ته د عالی تحصیلاتو زمینه مساعده شی.

کندهار د هیواد د نورو لویو ولایتونو په څیر د هر ډول انکشاف د پاره پوره استعداد لری نو څرنګه چی دلته د نفوسو زیاتوالی او کندهار ته مهاجرتونه محسوس دی او دغه حالت د ژوندانه په هر اړخ کی نوی تاسیسات ایجابوی نو د عصر د غوښتنو ته مثبت جواب ورکول او د هغو آینده پنځکلو نو پلانونو په موده کی د دغه ولایت د چارو پر مخ بیول د هیواد په سالم انکشاف او پرمختګ باندی ګټوره اغیزه کوی او له دغه درکه د هیواد اجتماعی او اقتصادی حالت زیات پیاوړی کیږی.

د یوی ټولنی د پرمختګ او د ژوندانه د سمون له پاره لومړی شرط عصری پوهنه او مثبته روزنه ده او تر څو پوری چی انسانان د علم له مخه ونه رسیږی، علمی او معنوی سویه ئی جګه نه شی، د سمی روزنی او مدنی تهذیب خاوندان نشی او لدغی لاری څخه خپل انسانی مکلفیتونه او ملی وجایب ونه پیژنی هغه کسان د پرمختګ او نیکمرغی مخ نشی کتلای.

دغه سبب دی چی نن حکومتونه د خپلو خلکو د علمی سویی او عصری روزنی د پرمخبیولو لپاره په کلکه زیار باسی او زموږ په هیواد کی هم پدغه لار کی د نورو انکشافاتو په جمله کی ډیر کوښښ او فعالیت کیږی خو چی ځوانان او پیغلی د علم او اخلاقو په وسیله مجهز او د هیواد او ټولنی خدمت ته د هره حیثه مساعد او چمتو وی او د هیواد د لوړتیا او نیکمرغه کولو ترعهد په ښه توګه ووتلای شی.

په کندهار کی د عملی امکاناتو په نظر کی نیولو سره د نورو انکشافاتو تر څنګ د پوهنتون جوړول او په کار اچول د دولت یو ګټور او مهم اقدام دی چی پدې ډول زموږ ولایت خپل باستانی عظمت بیا راژوندی او د هیواد د نورو

[پاته په دوهم مخ کی]

لیکونکی م [عطائی] پر ادبیاتو کره کتنه

اصالت وجودی

د اګزستانسیالسم په شیوه ادبیات

په ۱۹۶۴ کال کی یعنی شپږ کاله د مخه د فرانسی معروف ناول لیکونکی [ژان پل سارتر] په ادبیاتو کی د [نوبل] مشهوره جایزه وګټله خوده یی له اخیستلو څخه امتناع وکړه او هغه مهال چی یی اخبار-والاؤ ته د دغی امتناع علت بیا ناوه نووی ویل:

[اساساً زه پدې عقیده یم چی جوایز که لوی وی او که کوچنی باید تشویقی جنبه ولری. کوم مبلغ چی ما ته د دغی جایزی له درکه منظور دی هغه ډیری پیسی دی خو څرنګه چی زه یو [اکزنستانسیالیست] یم نو د دغی فلسفی پیروی له مادی لذت څخه فارغه کړی یم او دا علت دی چی ما د [نوبل] د جایزی څخه معافی وغوښته ښه خبره خو داده چی د نوبل جایزه د هغو لیکوالو له پاره تخصیص شی چی د لیکوالی په دنیا کی تازه قدمونه ایږدی کوم اثر چی ښاغلی (سارتر) ته پر هغه د نوبل جایزه منظور سوی ده [کلمات] نومیدی [کلمات] د لویدیځی نړۍ د یو داسی ادبی روش په پیروی لیکل شوی ؤ چی هغه [ژوندیو ناتمامه اضطراب] بولی.

تر دوهمی عمومی جګړې وروسته اروپایی تفکر د یوه اضطراب سره مخامخ ؤ او د دې علل هم د هغې جګړې په تباهیو کی مضمر ؤ چی پنځه کاله یې پر له پسې پر انسانی هستۍ یوه بې رحمه قصابی عملاً تطبیق کړه.

دی عمومی جګړې او د اروپا اجتماعی نابسامانی انسانی طبیعت په عین تمدن کی وحشی کړ.

څو داؤ چی په فلسفی تفکر یې د یو فلسفی لیونتوب دروازه خلاصه کړه او د دې سوال له پاره چی ژوند څه شی؟ او د هغه درک څرنګه کیږی؟ یوې ډلی متفکرینو په خاصه شیوه جواب ووایه چی:

[ژوند اضطراب دی! او د هغه درک بې حاصله عامل دی].

هغو کسانو چی د دې فلسفی مشی پیروی کوله ځانونه ئې [اګزستانسیالستان] او خپل لین ئې [اګزستانسیالسم] وباله چی په ختیځه علمی اصطلاح کی په [اصالت وجودی] ترجمه کیږی.

[نور په ۸ مخ کی]

د اول مخ پاته

دښار د نوی پلان له مخه.

لویو ولایتونو په قطار کی خپل موقعیت نیولی شی. زموږ علمدوسته خلکو ته دغه خبر یو په زړه پوری زیری دی او د حکومت داډول ګټور اقدامات نه یوازی د هیواد د دغی مهمی سیمی راتلونکی حالت لوړوی بلکه د هیواد د نوی ژوند په تنظیم او منځ ته راتلو کی مرسته کوی او زموږ هیواد-وال ډاډه کوی چی په نورو لویو ولایتونو کی هم د عالی تحصیلاتو او پوهنتون د پرانیستلو او جوړیدلو زمینه مساعده ګرزی.

په کندهار کی د پوهنتون په جوړولو سره د دغی سیمی یوه ستره آرزو تر سره کیږی او پدې ډول د ژوند د لوړیدلو او ټولو انکشافاتو او د چارو د پرمختګ مفکوره تحقق مومی او پدغه راز حالت کی زموږ د دغی سیمی د بشری قواؤ او ستر طاقت څخه د کندهار او هیواد په لوړولو او هوساینه کی پوره کار اخیستل کیږی.

(ښاغلی ایوبی)

د مرحوم استاد صلاح الدین سلجوقی مړینه یوه لویه علمی او ادبی ضایعه ده

نامتو شاعر او مشهور پیاوړی پوه استاد صلاح الدین سلجوقی چې د هیواد یو صادق او سابقه لرونکی خدمتګار ؤ د جوزا په ۱۶ نیټه د شپې په دوه نیمو بجو دزړه د دریدو په اثر وفات شو

استاد صلاح الدین سلجوقی د پنځه پنځوس کاله مطبوعاتي، علمي او فرهنګي خدمتونو په موده کښې په الهیاتو، د اسلام دفلسفې، دفلسفې دتاریخ اخلاقیاتو او ادبیاتو کښې قیمت لرونکي آثار تالیف تدوین اوترجمه کړیدي چه استاد زموږ دعصر په علمي او فرهنګي ټولنو کښې ژوندی ساتي، استاد سلجوقی په هیواد کښې دننه او له هیواد څخه دباندې زموږ دعصر دیوه نامتو عالم په حیث پیژندل شویدی.

صدر اعظم ښاغلی نوراحمد اعتمادی داستاد صلاح الدین سلجوقی د وفات په خبر ډیره خواشینی ښکاره کړه او ویې ویل مرحوم استاد څرنګه چې دیو عالم، لیکوال اوادیب په حیث دهیواد له برجسته شخصیتونو څخه ؤ د دولت دیوه خدمتګار په حیث یې په خپلو وظیفو کې دښوونکي په حیث دخپلې تصدۍ په وخت کښې اوداداری وظیفو اومطبوعاتي اوسیاسي چارو په تصدۍ کښې ټول ارځښت لرونکي خدمتونه دهیواد له پاره کړیدي اود استاد وفات یې یوه نه جبیره کیدونکي ضایعه وبلله.

داطلاعاتو او کلتور وزیر دکتور محمود حبیبي په هغه مرکه کښې چې دراډیو افغانستان له راپورترسره یې وکړه دهیواد دنامتو پوه او ادیب استاد سلجوقی وفات یوه لویه ضایعه وبلله چې دادب نړۍ اودمطبوعاتو او کلتور عالم ته رسیدلی ده.

دکتور حبیبي د هغه وزارت دوزیر په حیث چې مرحوم استاد دمطبوعاتو دلومړنی مستقل رئیس په حیث دهغه ریاست دبنسټ په ایښودلو، تاسیس او انکشاف کښې لویه او نه هیریدونکي برخه اخیستې ده دمطبوعاتو او افغانستان اکاډمی د منسوبینو او د هغه وزارت مربوط دنورودقلم د خاوندانو په نمایندګۍ له دغه نه جبیره کیدونکي فقدان څخه ډیره خواشینی اوتالم کړی اودهغه مرحوم بیرته پاتې کسانو ته یې دلوی خدای (ج) له دربار څخه صبر اوتسلیت غوښتی دی.

مرحوم استاد صلاح الدین سلجوقی

د علامه استاد صلاح الدین

سلجوقی جنازه دجوزا په ۱۷ نیټه دمازیگر پرڅلور نیمو بجو په دارالامان کی ددوی له کور څخه واخیستل شوه دپل خشتی دجامع په مسجد کی دجنازی ترلمانځه وروسته په شهدای صالحین کښی په احترامانه توګه وخاوروته وسپارل شوه.

د مرحوم سلجوقی د جنازی اوښخولو په مراسمو کی دهیواد لوړو عسکری او ملکی شخصیتونو مامورینو ډیرو علماؤ لیکوالو، مخورو او دمرحوم علاقه مندانو ګډون کړی ؤ.

ددوی پیژندګلوی:

افغانی لیکوال، شاعر ادیب او دیپلومات علامه صلاح الدین سلجوقی د مرحوم سراج الدین زوی په ۱۲۷۶ لمریز کال کښی دلمریز کال په حساب دری او یا کاله پخوا دهرات په ښار کښی دعلم او فضل په کورنۍ کښی زیږیدلی دی.

نوموړی په ۱۲۹۶ لمریز کال کښی د هرات دښار دمحکمی د مفتی په حیث مقرر شو او د هیواد د خپلوا کی له بیا لاس ته راوستلو نه وروسته کابل ته راغلی او په ۱۲۹۸ کال کی دحبیبیی په ښوونځی کښی دښوونکی په حیث مقرر شو او په هماغه کال دهرات دپوهنی دمدیر او دهرات دفریاد دجریدی دسرمحرر په حیث ئی وظیفه اجرا کوله.

سناتوره میرمن حمیرا سلجوقی

وروسته له هغه په ۱۳۰۰ کال کی بیرته کابل ته راغی او د پوهنی دوزارت په دارالتالف کښی ئی د تصحیح او په کابل دارالمعلمین کی دښوونکی وظیفه په غاړه درلوده او هم دوه نیم کاله ئی په شاهی دارالتحریر کی دواقعو لیکلو د دریمی څانګی سر کاتب ؤ ورپسی په ۱۳۰۷ کال کی دخارجه چارو دوزارت دمطبوعاتو او اطلاعاتو دمدیر په حیث مقرر شو په ۱۳۰۸ کال کی دکورنی جګړی په وخت کی څلور نیمی میاشتی بندی ؤ او له کورنیو جګړو څخه د وطن له نجات نه وروسته په ۱۳۰۸ کال کښی بیا دخارجه چارو دوزارت د مطبوعاتو او اطلاعاتو دمدیر په حیث مقرر شو وروسته له هغه په بمبئی کی دافغانی جنرال قونسل په حیث وټاکل شو په ۱۳۱۵ کال کی له بمبئی نه تبدیل او له ویشلونه دمخه دهند په مرکز ډیلی کی د افغانی جنرال قونسل په حیث مقرر شو.

نوموړی استاد په ۱۳۱۸ کال کښی له ډیلی څخه کابل ته راغی او دمطبوعاتو د مستقل رئیس په حیث مقرر شو دهند او پاکستان دنیمی قاری له ویشولونه یو کال وروسته په ۱۳۲۷ کال کښی په کراچی کی دافغانی لوی سفارت دمستشار په حیث دمختار وزیر په رتبه وټاکل شو او په ۱۳۳۳ کال کښی بیا دمطبوعاتو دمستقل رئیس په حیث او وروسته بیا دهمدغه کال په پای کی په مصر کښی دافغانی لوی سفیر په حیث مقرر شو او د ۱۳۴۰ کال تر پایه

پوری یی همدغه وظیفه په غاړه درلوده .

استاد سلجوقی خپل تحصیلات په خصوصی ډول په مدرسو کی سرته رسولی او په دینی علومو او ادبیاتو کښی ئی لوی لاس درلود او له خارجی ژبی څخه ئی په عربی او انګلیسی خبری کولای شوی او لیکل ئی هم ور باندی کړای شول او د قاهری د عربی لغت د ټولنی د غړی په حیث انتخاب شوی ؤ .

مرحوم استاد صلاح الدین سلجوقی شوروی اتحاد ، هند ، ایران ، عربستان ، مصر او امریکی ته مسافرت کړی دی .

استاد سلجوقی د سردار عالی او لومړی درجه ستوری نښانونه اخیستی دی

تالفات :

د اخلاقو په علم باندی مقدمه دوه ټوکه په ۱۳۴۱ کال کښی د افلاطون اثر د نیکوماکوسی د اخلاقو د علم ترجمه په علمی تمهید او مقدمی سره یو ټوک .

[افکار شاعر] په ۱۳۳۴ کال کی [نګاهی به زیبائی] یو ټوک په ۱۳۴۲ کال کی ، د علم د سیر د تعلیمی نصاب له پاره اخلاقی مرکه .

خبر ده علم بدیع و بیان ، نقد بیدل په ۱۳۴۲ کال کی (تجلی خدا در آفاق و انفس) ۱۳۴۴ کال .

د استاد ترجمی :

د ابن مسکو په تهذیب اخلاق ۱۳۴۴ کال .

[سیاست ارسطو] ، محمد [ص] د شیر خوراګی او جبیره په نوموړو آثارو علاوه د علامه سلجوقی ډول ډول ترجمی او مقالی د هیواد او په خارجی مطبوعاتو کی چاپ او خپری شویدی .

د کندهار مجله : د علامه سلجوقی د مړینی له کبله د دوی کورنی په زیاته بیا د دوی محترمی میرمن (حمیرا سلجوقی) ته چی د هیواد فاضله او پوهه ښځه ده او هم د هیواد علمی محافلو ته د خواشینی څرګندولو په ترځ کی د تسلیت مراتب څرګندوی او د ده ارواح ښاد لپاره دلوی او مهربان خدای څخه د هغه جهان دلویو درجاتو التجا کوی .

د جان لافون نتن اثر

د سولی سندره

ډیر ژر به د جګړې تور دیو زموږ له خاوری کړی بار کړی او د دوهم ځل لپاره به د سولی پرښته زموږ په خاوره کی خپلواکه شی ای سولی ! ژر راشه دا خیټور او مغرور سربازان چی زما میږی په غلا وړی او څښن ته ئی ربړ ورکوی لدی ځایه وشړه دا د شپانه ښکلی کور د هغوی له شر څخه خلاص کړه او تر لاروی وروسته پرته له عشقه بل چا ته د دې کوټی د ننوتو اجازه مه ورکوه .

داسی کارو کړه چی د شپون سره د هغه ښځه هم په نڅا راسی او د دې شنی د ښتی بوټی پخپلو پښو خچ بج کړی او هغه وخت د شپانه د تیر ایستو په هڅه دونی په ډه ډه د ځان په خوب ووهی تر څو چی شپون هم ور سره پریوزی .

ای سولی ! ای د نړی د ګردو ښیګڼو چینی راسه او د اوچه مځکه پخپل راتګ خړوب کړه ژر راسه او د جګړی وروستی نښی نښانی هم په پخپلو سپیڅلو او بو ووینځه زموږ له هوسونو ډک زړونه خپلو هیلو ته ورسوه موږ ته له مینی او زړه خوښی څخه برخه راکړه زموږ پخوانی عیشونه چه د جګړی په لاس له موږ څخه لیری شویدی بیرته راوګرزوه .

هغه د ژوند پیټی چی جګړی زموږ پر اوږو ایښی دی لیری کړه . داسی کارو کړه چی زموږ ډیر د روند غم د ښکلو لو او ماهرویانو ناز او نخری وی داسی کارو کړه چی موږ په هوسا خاطر له سهاره تر ماښامه په شنو ورشوګانو کی اوږده وغزیږو او د لارویو سره د خپلو خوږو مینو کیسی ووایو .

له جواهر الجور څخه

د نجیب ژباړه

المنفلوطی

سید مصطفی لطفی المنفلوطی د اوسنی عصر له مشهور وادبیانو څخه ووچی د ژوند حال ئی مستر ایچ - آر ګیب په [یو لتین آف دی سکول اور نټبل سنډیز] کی په مجمل صورت سره لیکلی دی او موږ دلته له هغه مضمون څخه بعضی غوره خبری په اجمالی صورت سره رانقلوو.

دغه نیم ترکی او نیم عربی ادیب په معمول له صورت سره دازهر په جامعه کی تعلیم کړی او په شاعری کی ئی ډیر ژر په خپلو هم عصرو شاعرانو کی لوړ نوم وګاټه بیانو ونثر لیکلو ته متوجه شو او اکثره اوقات به ئی المؤید کی ښه خوا ږه مضامین لیکله له یوې خوا څخه د ادباؤ و عربی ادب ته خدمت او له بلی خوا څخه د مذهبی اصلاح او اسلامی اتحاد تحریک چی نوی په مصر کی شروع شوی ؤ دده حساس وجود تر دومری تاثیر لاندی راوستی چی په پای کی د متناقضو میلانا تو مجموعه ځینی جوړه شوه نو همدغه سبب ؤ چی په [۱۹۱۰] عیسوی سنه کی ئی د انظرات په نامه سره د مضامینو یوه مجموعه نشر کړه چی د تحریر د طرز او ښه والی د موضوع له حیث د مصری ادب په نوی عصری کتابو کی نظیر لږ میندل کیږی که څه هم مؤلف ئی په کومه اروپائی ژبه نه پوهیدی مګر د دې کتاب او یا نور وائرو هره موضوع ئی دوکتور هوګوار پاروسود - مضامینو غوندی رنګ لری ممکن چی د هغوی اثرات به په مستقیماً نه بلکه بالواسطه ور رسیدلی وی او بل دغه مضطرب دماغی جذباتی طبیعت ابتکاری شاعر چی تل به ئی د خپلی ښی نوع پر تاریکو اړخو باندی رڼا اچولی او ژوندو لره د او ښکر یوه وادی وه چی د تخیل د رجوع له لاری به ئی ځان له هغو څخه ژغوره تل ده ویله زما په نظر تر حقیقی حسن تخیلی حسن ډیر مرغوبیت او مقبولیت لری.

د ښکلو ښارو د حالاتو ویل تر لیدلو ډیر خوندرا کوی ځکه چی زه بیریږم چی اصل به د نقل خیالی خو ښی زما له دماغه څخه وباسی مطلب دادی چی دی اجتماعی ادیب د بی انصافیو په لار کی پر هر چا او هر سیاسی حزب باندی که د ښی لاس وو که د کیڼ شدیده حمله کوله او هیڅوک ئی ومخی ته نه شوای دریدلای تنقیدی لیکنو به ئی نورنګ او غیر مستقیم صورت درلودی چی د هر ویونکی د خیالاتو هنداره کیدلای شوای د مخه خو مو د المنفلوطی د انظریات نومی مجموعی څه ذکر وکی مګر تاسی ته دی دا معلومه وی چی المعبرات نومی مجموعه ئی تر هغه لا په مضامینو کی خوږه او په زړه پوری ده او په دې کی محترم مصنف دا مقصد ادا کړی دی چی عربی ژبه د غرب د لوړو لیکنو د ادا کولو قابلیت په ټولو وجوهو سره لری.

د عشق فلسفه

ویالې درودو سره غېږ
په غېږ سی.

رودونه د بحرو سره.
همداسی په اوبو کی د
څپو سره غېږ په غېږ کیدل
وګوره.

بادونه په خپلو حرکاتو
په یوه ښکلی ډول په وریځو
لوبی کوی.
لمر هم نړۍ په غېږ کی
نیسی.

سپوږمۍ هم د وریځو
سره وصل شی.
په جهان کی هیڅ شی
یوازی نه دی.
نو چی آسمانی قانون
موږ سره تړلی یو څله به زه ؤ
ته سره بیل یو.

آخر هم دا وصلتونه څه
ارزښت لری چی زه ؤ ته سره
یو ځای نه یو

[د عمزی ژباړه]



د سپوږمۍ

په باب نوی معلومات

سپوږمۍ پنځوس واره ترمځکی کوچنی ده .

نه اوبه لری او نه هوا نه آبادۍ نه په هغه ځای کی هوا سته او نه ژوندی موجودات .

سطح ئې د ډبرینو خاورو دوړو آتشفشانو، بی اوبو اوقیانوسو بعضی راوتلو

او ننوتلو ځایو څخه تشکیله شویده د صوت خپریده څرنګه چی هوا موجوده نده صورت نه نیسی .

داسی مځکه ده چی یوه خوائی همیشه تاریکه ده .

او هر ژوندی موجود یخی کوی .

او بله خوائی همیشه روښانه ده او ګرمی ئې دومره ډیره ده چی ژوندی موجود کبابوی .

ځکه د سپوږمۍ هغه برخه چی همیشه ولمرته ده حرارت ئې دایشیدلی او بو تر حرارت ډیر دی .

آیا پوهیږی چی سپوږمۍ په هره ثانیه کی دیو کیلو متر په سرعت د مځکی پر شاوخوا راګرځی . نو پدې ترتیب په ۲۹ ورځو کی یو وار خپله دوره وهی او پدې

وخت کی یو وار پر خپل ځان هم راګرځی او په ۳۶۴ ورځی کښی یو وار د لمر پر

شاو خوا راګرځی . د کوچنیوالی په نسبت د سپوږمۍ د جاذبی قوه

ترمځکی لږده او یو سل کیلو وزن په سپوږمۍ کی درلونکی د [۱۵] کیلو وزن دی . نو پدې ځای کی کولای

شو چی په یوه لاس یو [۵۰۰] کیلو ئی وزن ته حرکت ورکړ او هم کولای شو چی دیو خیز په واسطه دیوه کور په ارتفاع لوړ وغورځو .

د سپوږمۍ قطر ۳۴۷۶ کیلو متره او وزن ئې د مځکی یو پرا (تیا) دی .

د کریمی ژباړه

د څورلسمی اپولو لکښت

د امریکا د فضائی ملی مؤسسی داسی تصمیم نیولی دی چی د راتلونکی اکتوبر په میاشت کی خپله څورلسمه اپولوو فضا ته ولیږی .

څورلسمه اپولو به برسیره پر خپله شپارل شوی وظیفی د دیرلسمی اپولو د ناکامی سبب روښانه کړی .

ډاکټر توماش باین د مؤسسی رئس وویل :

د دی نوی فضائی پروګرام لکښت به ۳۶۰۰ ملیون ډالره وی چی دا لکښت د دوه ملیون او اوه سوه ملیارډه افغانیو سره معادل وی .

دوی پدې تګ کی د زیات موفقیت په هیله دی .

(د دوهم مخ پاته)

اصالت وجودی

اگزستانسیالسټانو یعنی دوجودی اصالت طرفدارانو پر ډیالکټیکی عقل یو قلم بطلان خط کش کړ او انسان ئې کاملا آزاد او مختاره وباله.

په فلسفی لحاظ دا مکتب جهانی هستی او ژوند یو خوشی او پوچ خیال وباله او نو دا وجه وه چه دا سی تفکر یو اځی په فلسفی ساحه کی پاته نسو بلکه ادبیاتو ته یی هم نخره وکړه او په لږ وخت کی ئې مظاهر په فرانسه کی څرگند شو.

په ادبی دنسیا کښی د اگزستانسیالسم جنډۍ [کی اکګارد] نومی داستان لیکونکی جګه کړه او د اشعارو نه پردغه جنډۍ لیکل شوی وه چی: [وجدان همیشه حقیقت خلقوی: کی ارککارد] او [زه هغه وجود یم چی هستی هغه زیږوی هایډګر]

دا جنډۍ تر اوسه رپیږی خو څرنګه چی د ژوند او واقعیت پر ضد راپورته شوی ده نو مقاومت یی ورځ په ورځ ختمیږی او لیږی نه ده چی چپه کیده دی ژر ولیدل شی.

د دغی فلسفی په پیروی ادب ډېره زموخته څهره غوره کړیده او یو ذهنی وحشت طوفان ئې عالم شموله کړی دی. دوی ژوند یوه بندیخانه بولی.

[البر کامو] چی د دې مکتب یو معروف لیکوال دی وایی [چا چی یوه ورځ ژوند کړی وی هغه کولای شی چی شل کاله په بندیخانه کی و اوسی]

[ژان پل سارتو] په خپل یوه داستان کی چی [ورتړلی] نومیږی ټوله کوښښ دې ته وقفوی چی [نور ژوند زموږ له پاره د دوږخ حکم لری].

[اندره مالرو] چی هم د [اصالت وجودی] د فلسفی په پیروی کوم ادبی آثار منځ ته راوړی دی د هغو ټولو څخه د مرګ ناامیدی او بیهوده ګی آثار د ورا معلومیږی.

په ادبیاتو کره لیکونکی لیکوالان چی په واقعبینی سره فلسفی مبادی په ژوند کی پلټی پر دې خبره متفق دی چی دا مکتب د تخیلی فلسفی د سل کلنی کونډی سره د نوی انارشی ذهن له مشروع ازدواج څخه وزیږیدی که یو څه په سړه سینه او خلاصو سترګو هغه روابط چی انسان ئی د ژوند سره لری تر غور لاندی ونیول شی نو دا حقیقت ګر سره ځان نسی ورکولای چی ژوند دونه پر له پیچلی او نه پیژندونکی مسئله نه ده چی د اضطراب تر عنوان لاندی یی بیهوده ګی قلمبند شی.

هغه علل چی ژوند د اضطراب په څپو کښیباسی باید ورک او ناپیژندونکی ونه ګڼل شی ځکه د بشری ټولنی تاریخ او اجتماعی مرحلی زموږ په مخ کی ډیر حسابی بیلانس ایښولی شی.

د (اصالت وجودی) د فلسفی او ادبیاتو د پیروانو خطا پدې ځای کی ده چی دوی اجتماعی سنن او تاریخی ارزښت ته قایل نه دی نو ځکه په اضطراب کی لاهو شویدی که هر څو نه زور ووهل شی او د نړۍ هر متفکر مغزو دې ته وجوړیږی چی انسان د ټولنی څخه جلا کړی بیله دې چی دیو ذهنی بغاوت مرتکب به ګرځیدلی وی بله نتیجه به ئې په نصیب نسی.

لکه چی د نونسمی پیړۍ د اروپایی ادب لوی مکتب رومانتسیزم د خپل ټول قوت سره دوچ طبیعت خواته د انسان د سوق کولو په لار کی بریالی نسو نو د هغه پر لار روان نور مکتوبونه هم د هغه سرنوشت او تکلیف سره مخامخ دی.

[پای]

دن، نیازی ترجمه

میده لیکنی

او

میده کاری

دمخه تردې چې د نوری نړۍ د میده لیکنی او میده کارۍ د هنر په باره کښې څه ولیکو لازمه مو وبلل چې د خپل هیواد د پیاوړی هنرمند خطاط سید محمد داؤد الحسینی د میده لیکنی یادونه هم وکړو :

دوی کولای سوای او کړی ئې هم دی چې پر یوه مربع انچ کاغذ [۲۲۷۰] توری مساوی [۵۵۵] کلیمی ولیکی او هم ئې پر یوه دانه نرۍ ورجه ټوله بسم الله شریفه ټوله د فاتحی او اخلاص سورتونه د خپل نامه ، میاشت او کال سره لیکلی دی .

میده لیکنی د زره بین په ذریعه نوشته او ویل کیږی چې دې ډول خطاطی ته [میده لیکنه] وائي .

په ۱۳۷ عیسوی کال کی د چین یو سړی چې په روما کی او سیدی او د نصرانیت دین ئې قبول کړی وو ده دورجی دیوې دانې څخه یوه مجسمه جوړه کړی او د روم و پاپ ته ئې د سوغات توګه وړاندی کړه دا مجسمه له هره حیثه ښکلی او مکمله وه او په عین زمان کی ئې د زره بین له کومک څخه چانسوای کولای چې د هغه په ترتیب او اجزاؤ دې پوره علم راولی .

همدا رنګه یو وخت یو سړی د فرانسی د اکاډمی رئیس ته یوه دانه غنم وړاندی کړ چې پر هغه [۲۲۱] ټکی نوشته شوی وی .

همدا ډول څو کاله مخکښی د سوریی یوه خطاط دیوی ګوتمی پر غمی د الحمدالله شریفی سورت او پر هګۍ یی د عثمانیا د سلطنت مکمل تاریخ لیکل شوی ؤ .

تاریخ لدې قسمه کارونو څخه ډیر عجیب عجیب شیان لیکی چې د هغو له مخی د خلکو کمالونه او هنرونه ښه ترا معلوم میدای شی مثلاً په [۱۶] عیسوی قرن کی یوه زرګر یو د سر وزرو ځنځیر جوړ کړی او وو ملکی الیزابتی ته ئې وړاندی کړ دا ځنځیر [۵۰] حلقی درلودلی دومره میده او نازک وو چې که پر کاغذ واویا ایرو باندی نه وای ایښود شوی چاته نشو معلومیدلای بالاخره هغه ئې دیوه مچ پر پښو باندی وتاړه چې مچ لا هم د هغه د روندوالی حس نکړ او په ښه صورت الوتلا شوای .

د [۱۶] قرن په آخرو کښی [جوزیف] دیوې دانې غنم څخه دیوه اسپانوی سړی نوم جوړ کړی او دا نوم دومره مکمل او درست ؤ چې د زره بین په ذریعه کیدلای شوای چې د هغه ټول اجزا په پوره ډول معلوم کړه شی .

همدغه رنګه یوه انګلیسی سړی یوه څلور

[باته په ۱۰ مخ کی]

ادبی نثر :

هغه نه وه !

د حویلی باغچی ته می خپل کټ را کش کړ ...
د ټولو ګلونو په خوږو بویونو کی د پټونی ګل خود نمایی کوله.
د حویلی پاکه فضا د خوږو خوږو بویو څخه ډکه وه.
نری شمال سوړ سوړ لګیده او په خپلو پستو څپو کی بی خوږی وږمی هم د ځانه سره سمی نڅولی ...
څورلمی سپوږمی هم پوره مزل کړی ؤ او د آسمان منځ ته را رسیدلی وه .
د سپوږمی په سپینو وړانګو کی ستورو ځانونه پټ کړی ؤ ...
د شفق په څنډو کی د ځینو ستورو لا هم د شوخی سترګو نه وهل ...
شپه رڼا ورځ ګرزیدلی وه ....
ډېر ستړی وم په کټ کی می ډډه واچوله
هیڅوک را سره نه ؤ ... بس یوازی وم ...
دا نو ډیره سخته شپه وه ....
ځکه چی د کیف په ځای کی می د یو ډیر پټ درد احساس کاوه .
سپینی سپوږمی هم زما دلاسایی نه کاوه د ګلو خوا ږه بویونه به رانه وړاندی تښتیدل .
ښکلی سپوږمی به راته کله د ځانه زما محبوب جوړ کړ راته وبه ئی خندل او بیا به ئی رانه پټه شوه ستوروم زما په حال پوری خندل.
دوی به زما په یوازیتوب تأسف کاوه .
د داسی ښی او روغی شپی سره یی زما ځانله توب را پیاداوه په کومه اندازه چی سپینی سپوږمی ما پوری خندل د ګلونو بڼی هم زما په مړاوی توب هیڅ مړاوی نه وی .
د خوا ږه ساز هنګامی زما غوږونه راتللی زما جذبی را تخیدلی او زما حیرانی آرزوګانی بی په ژړا راوستلی ...
زما په سترګو کی خوب چیرته ؤ ....
هغه هم را ځنی تریدلی ؤ ....
ستړی ستومانه په کټ کی څملاسم او د دوی واړو شوخی می په زړه تیری کړی رشتیا ډیره د مزی شپه وه چی می نازولی مینه وه....
ما نور څه نسو کولای ....
ځکه چی بی ملګری داسی ښی شپی بیا هم بیخونده او دردناکه وی.
همدومره می وکړه چی د سپوږمی په رڼا کی او د ښکلو ګلونه بویو کښی می د دې شپی خاطره داسی.
ولیکله کاشکی چی په داسی وختو کی هغه هم را سره ملګری وای .

«ط»

[د ۹ مخ پاته]

میده لیکنی او ..

اربه ئی ګاډی جوړه کړی او دومره کوچنی وه چی هغه به ئی د دوو کیکو په پښو پوری تړلی او د کاغذ پر مخ به ئی ایله کړه کیکه به د سګریټ په دود سره متأثره شوی څو هغه به په حرکت راغله او ګاډی به ئی کش کړه.

یو سویډنی سړی چی «مورنجاریس» نومیدی د عاج څخه ئی [۱۲] دانی داسی غابونو جوړ کړی وه چی هغه ټوله دیوی دانی تور تور مرچ په پوست کښی ځائیدله .

دغه سړی دا هم وایی چی مایو سړی ولیدی چی د دکن حیدرآباد ؤ او په یاد می ندی چی د سعدی ګلستان وو که د خواجه حافظ دیوان ؤ دیوی چړې پر مخ باندی نوشته کړی او د سیل د پاره ئی ما ته را کړه چی ما په خپلو سترګو ولید .

پخوانی ادب:

ښه چې خوارسو شمس الدین دائی سزاده

دریغ څه شو هغه یار چې مالیده
چې سری شونډی وهر چاته مسیده
زمازړه ځنی مراد نه موندہ هیڅکله
بیهوده ئې په تش نوم هو سېده
هیچالاس نژدې وروړای نشو له وهمه
پرسپین مخ ئې تور مارونه تا وېده
دگلرخ ومخ ته هله دچا لارشی
که شبنم غوندی په شپه کی اورېده
عشق او صبر سره څه غواړی ناصحه !
بس کړه مکوه بېځایه ویلیده
زه محروم له خپله شعره نور کامیاب وی
ژبه کله لکه غوږ کړی اورېده
زه هله رحم شمېرم په مسلمان کی
که دلبر مې په ژړا ؤنر مېده
دابیضه ده دغمو ، چې غم تری زیږی
که لېمه مې په ژړا وپړ سېده
ښه چې خوارسو [شمس الدین] دائی سزاده
چې پرهسی رنگه یار مین کېده

[تپاند]

داچی ولاړم

ډیر نازونه می دی و ګالل چی ولاړم
ستاله غمه می ډیر وژړل چی ولاړم

✡✡ ✡ ✡✡

چی دشو نډوښکل دی زما په نصیب نه شو
دوه شو نډان می سره وچاودل چی ولاړم

✡✡ ✡ ✡✡

درسته شپه می په زاری درته سبا کړه
ټول دزړه وینه می وخوړل چی ولاړم

✡✡ ✡ ✡✡

که هرڅو درته په چیغو په کوکارسوم
تش کوګل، سینه می وڅیرل چی ولاړم

✡✡ ✡ ✡✡

بی پروابی اعتنادی پرکټ څملل
نا آشنا په چم دی وکتل چی ولاړم

✡✡ ✡ ✡✡

محبت دی قبول کړی ما [تپاند]ؤ
خو رقیب سره دی وخندل چی ولاړم

سترګی

دخپلی محبوبی دخو مارو سترګو په باره کی موتر اوسه ډیر شیان لو ستی او اوریدلی دی مګر سره لدې فکر کوو چی لاندنی مطالب تاسو ته نوی غوندی دی ځکه چی داد ډاکترانو دمطالعاتو وروستی نتیجه ده :

[۱] غټی سترګی دهوښیاری او ځیرکی نښی دی .
[۲] وړې سترګی دقوی جنسی تمایلاتو نښی دی .
[۳] ګردی سترګی دکم فکری او خراب ذهن نښی دی .
[۴] راوتلی بادامی سترګی دښه او صفا زړه درلودلو علامی دی .

ویران

لېوه

یو لېوه راغی پر کلی
ددې خلګو سره سپی وه
لوی ناري وې اوهی هی ؤ

لېوه هم ډیر هولکی ؤ
نه ئې ځای د پټېدو ؤ
دروازی دټوله کلی
ډیر چابک راغی په ځغاسته

لېوه و ویل پشی ته
چی می پټ دلته یو آن کړی
پیشه ووې ورسه [تور] ته
[تورلالا] به در رسیږی

لېوه دا وخت فکرجن شو
نه ورتیء پر کورله شرمه
[تور] درلودیو غټ اوزګړی
پیشی بل سړی وریاد کیء
[دادلالا] دهغه نوم ؤ

ژر ورځه د هغه کورته
ده وویل ته خوښه وایی
[داد] یو لوی مږؤ ساتلی
دده خواته کتای نسم
پیشی بل یو ور پیدا کیء
لېوه بیاهم څه حیران شو

چی ډیر خلک پسی ځغلی
توپکان وه اوسوټی وه
سپېری دوړی وې دربی ؤ

لدې خلګو څه شا کی ؤ
نه ئې ځای دخلاصیدو ؤ
وې پرده باندی تړلی
پریو بام وه پیشی ناسته

زه نن اړیم ښه سړی ته
اوله دوی می په امان کړی
دا نژدې د هغه کور ته
په نیکی دی ډیر یادیږی

خپلو کړو ته ارمانجن شو
وې ویل په لهجه نرمه
هغه مادی ځنی وړی
نوم ئی ده ته ورپیاد کی
په ښه والی کی معلوم ؤ

کنه ولوېدې و اورته
ما به هلته څنګه بیایې ؟
هغه مادی ورځیرلی
اوله بیری ورتلای نسم
معرفی ئې [فیض لالا] کیء
و پیشی ته په بیان شو

ویل ده ساتلی وری ؤ
چی هغه لاډیر کوچنی ؤ
ما هغه ځنی حمله کی ء
اوو ځان ته می گوله کی ء

اوس له ده څخه بېریږم
او په خپل عمل شرمېږم
نو درد ورغی پیشو ته
ویل گوره خپلو کړو ته

چی هیڅ ځای دی نسته مرسته
داستا خپل کړه دی نادرسته
بیا هم ورسه و [اکرم] ته
یا یې ورور [محمد اسلم] ته

گوندی دوی به دی حامی سی
اوستا ژوند به په خوندی سی
لېوه آه و کیښ له غمه
ور په زړه شوه خپله گرمه

ویل سږ چی پسرلی ؤ
مائې وړی یو سیرلی ؤ
دوی به وی راته په قهر
دانو ماته لکه زهر

پیشی وویل وده ته
وظالم خو نخوار لېوه ته
چی تړلی دروازې دې
اودهر چاسترگی سرې دی

داچی هریو په نفرت دی
ټوله ستا خوی ؤ خصلت دی
په هر ځای کی چی یو [ور] دی
ټکولی دی په شر دی

ستا دلاسه نه روغ زړه سته
نه دی خیر، نه دی ښه سته
کرغېړن دی خپل عمل دی
خپل عمل دلاری مل دی

چی په هر ځای کی وی زخم
تا پر کړی نه وی رحم
بلکی مالگه دی لاډیره
پری پاشلی وی سر بېره

نو ظالمه اوناترسه
ځه دمرگ وخولې ته ورسه
چا چی هر څه وی کرلی
بیا ئی دی هغه رېبلی

خلک راغله لېوه گیر سو
او اخته دمرگ په ویر سو

شپږ زره کاله پخوا...

شپږ زره کاله کیږی چی سړی د سړو په وژلو لګیادی.

... آسمان هر کله د زنبق د ګلونو او د ښایسته مرغیو د ځالو په صورت خپل استاذی را استوی چی دوی د صلح او محبت خوا نه رابولی مګر دغه د مینی پیغامونه د خلکو له زړونو څخه دلیونتوب اثر نه وړی.

له ډیره وخته د مځکی د خلکو زورورو مینه له وژلو او وینو تویولو سره پیدا شوی ده ډیره مده کیږی چی د ملتونو خوږه او جزا به موسیقی د جنګ او جګړی ساز او سرود دی.

ډیر وخت چی افتخار د ویرو ونکی خپسکی پیدا کړی دی چی په دیو هیکله اراب په لاره تیریږی او ښځی نران، لوی واړه ترپښو لاندی چیتوی.

اوس زموږ سعادت او نیکبختی له ډیرې مشکل پسندی نه کار اخلی او هغه وخت ئې وچولی غوړیدلی وی څه خلک ووائی

« ځانونه وژنو » اوس باید د سعادت ګټلو د پاره د جنګ نغاره وډنګیږی.

هر چیری د پولادو برق په ځلیدو دی په هر ځای کښی د بلو لمبو لوګی اولوخړی پورته کیږی.

هغه خلک چی ډلی ډلی د خلکو د وژلو د پاره د جنګ میدان ته روان دی د خپلو تورو شپو د روڼو لو د پاره د تویونو د خولو لمبو ته ضرورت لری.

د ټول کارونه یواځی د قومونو د مشرانو د جاه طلبی د پاره دی.

هغوی لا په موږ باندی خاوری نه وی اړولی چه زموږ په قبرونو باندی د دوستی معاهدی کوی.

ځناور او مرغان لا د جنګ په میدان کی زموږ په وینو او هډو کو پسی ګرځی او دغه ښاغلی آقایان یو له بله سلامونه او احترامونه مبادله کوی.

زموږ په نښی د نیا کی هیڅ ملت نه غواړی چی یو بل ملت خپل ګاونډو وینی.

هره ورځ د قهر او کینی احساس زموږ په روح کی تقویه کوی او هغه اورته لمن وهی چی دوی پخپله بل کړی دی....

ښائی چی له یوه سیوری لاندی آرام کښینا ستل د یوی چینی خوږی او به څکل له یوی ګڼی او ګوړی ونی لاندی د خپلو رویاو وسره مشغولا، خوند او لذت ولری

مګر د نن ورځی انسان لدې ټولو خوندونو د خپلو وروڼو په وژلو کی مومی.

هغه وخت چی سپیدی چوی او د رڼا پیغام جهان ته راوړی هغه وخت چی د سحر مرغه نغمه سرایی کوی دغه جګړه مار انسان د وژلو او وینو تویولو په فکر کی وی او له کینی نه کار اخلی.

د « هوګی » ټا کنه

د مور د ورځې په مناسبت

ممتازه میندی

لومړی درجه مور میرمن شاه بی بی د پکتیا د ولایت څخه
دوهمه درجه مور میرمن طاهره سرخابی د فاریاب د ولایت څخه
دریمه درجه مور میرمن طاهره نوری د کندهار د ولایت څخه
څلرمه درجه مور میرمن حبیبه د کابل د ولایت څخه

د جوزا ۲۴ نېټه د مور ورځ وه په کابل او ولایاتو کښې په خاصو مراسمو سره ولمانځل شوه .

پدې ورځ د کال ممتازه میندی هم وټاکل شوې او د معظمې ملکې له خوا هغوی ته جایزې ورکړه شوې .

څلور میرمنې سږ کال د ۳۱ کاندیدانو له جملې څخه د کال د ممتازو میندو په حیث وپېژندل شوې .

دغه مطلب د میرمنو د ټولنې د قلم مخصوص مدیرې میرمن حفیظه خلیل د هیواد له خبریال سره په یوه مرکه کې څرګند کړ .

میرمن حفیظه خلیل چې د مور د ورځې د ځینو چارو متصدې هم ده وویل چې سږ کال میرمن شاه بی بی ادې د پکتیا له ولایت څخه د کال لومړۍ مور ، میرمن طاهره سرخابی [د فاریاب له ولایت څخه] دوهمه ممتازه مور ، میرمن طاهره نوری د [کندهار له ولایت څخه] دریمه ممتازه مور او میرمن حبیبه روستا (له کابل څخه) څلورمه ممتازه مور وپېژندل شوه

دې زیاته کړه چې سږ کال د دغه مقام لپاره له کابل څخه (۲۵) میندو او له ولایتو څخه (۶) میندو ځانونه کاندید کړي ؤ.

داچې د کاندیدانو شمیر له (۱۸) څخه (۳۱) ته جګ شو څرګندوي چې د مور د ورځې نمانځلو غوره تشویقي جنبه پیدا کړې ده .

د ممتازو میندو د ټاکلو لپاره شرایط

د میرمنو د ټولنې د مخصوص قلم مدیرې وویل په عمومي توګه له هغو میندو څخه ممتازې میندې ټاکلې کیږي چې د مشکلاتو په کالمو سره یې خپل زامن ، لوڼې تربیه کړې وي او له دوی څخه یې خدا پرست وطنپال او شاه دوست عناصر جوړ کړي وي دې د توضیحاتو په ترڅ کې وویل چې د ممتازو میندو په ټاکلو کې کورنۍ اقتصاد او محدودیتونه ، محیطي شرایط ، د زامنو او لوڼو د تعلیم او تربیې سویه او عالي تحصیلات او وطن ته د دوی صادقانه خدمتونه په نظر کې نیول کیږي همدا رنګه د مور روحي او اخلاقي سلامتیا او ددې د صالحو زامنو شمیر هم د ممتازې مور کیدو له شرایطو څخه دی .

د کال لومړی مور

میرمن حفیظی (خلیل) دیو رپوټ له مخی وویل هغه مور چی د کورنی په محدود و اقتصادی شرایطو کی ئی خپل زامن تحصیل

یافته عسکر روزلی او ټولنی ته ئی د خدمت لپاره وړاندی کړیدی میرمن شاه بی بی ده چی د کال لومړی مور وګڼله شوه .

میرمن شاه بی بی د غلام رسول خان (سرباز) لور او د مرحوم جګړن محمد عمر خان ماندینه ده ،

د اد پکتیا د ولایت له مرکز ګردیز څخه د اوو کیلومترو لیری کلی «بالا ده» او سیدونکی ده او پنځوس کلنه ده د دې میړه یو زړور

سړی وو چی د ګران هیواد په نجات کی ئی فعاله برخه لرله .

میرمن شاه بی بی (ادی) د خپل پلار او میړه له مکتب څخه چی دوی زړور کسان وه له وطن سره مینی او د وطن د خدمت لپاره

د صالحو زامنو د روزنی درس زده کړیدی ، دی پنځه ویشت کاله کونډه توب وکړ او خپل پنځه

یتیمان زامن ئی په هغه محیط کی چی د تحصیلاتو امکانات ډیر سخت وه وروزل او د علم او پوهی خاوندان ئی کړل .

میرمن شاه بی بی به د نارینه وو په څیر د کرنی په چارو بوخت کیده او د خپلو زامنو د روزنی او ښی ودی

له پاره به ئی شرایط برابرول دی ته یوازی انیا افغانی هره میاشت د دې د میړه

تقاعدی معاش ورکول کیدی او د لس جریبه ځمکی نه زیات نور عایدات ئی نه درلود خود دې د جرأت زړورتیا ،

ټینګکی ارادې او فداکاری نتیجه دا شوه چی دا دیوه طبیبت او د درو تحصیل یافته

عسکر و مور شول او له همدغه امله د ۱۳۴۹ کال لومړی ممتاز مور وپیژندل شوه .

د شاه بی بی ادی زامن دادی :

۱- د انجنیری ټورن محمد عثمان (عمری) د استحکام د پوهنځی استاد او س په مسکو کی د انجنیری د اکاډمی محصل دی .

۲- د روغتیا د وزارت په مربوط روغتون کی ملکی د کتور محمد امان (عمری) چی

د کابل پوهنتون د طب د پوهنځی څخه فارغ شویدی .

۳- د تخنیک د پوهنځی

استاد لومړی بریدمن محمد الله یار عمری چی د چکوسلواکیی څخه عالی تحصیلات لری .

۴- د تخنیکی خدماتو د ریاست د وهم بریدمن محمد هاشم (عمری) د ملی دفاع د کورس محصل .

د کال د وهمه ممتاز مور

میرمن طاهره سرخابی چی د فاریاب د ولایت د اوسیدونکی غلام محی الدین ماندینه ده یوه پوه او تجربه لرونکی مور ده چی د کورنی

او محیط د محدود و اقتصادی شرایطو له مخی ئی خپل زامن او لوڼی د علم او معرفت خاوندان کړیدی .

دا زحمتکښه مور و یاړی چی زامنو ته ئی د عالی تحصیلاتو لارې ښودلی او په

دوی کښی ئی د وطنپرستی ، شاه دوستی او ټولنی ته د خدمت روحیه تزریق کړی

او س ئی زامن د خپل ګران هیواد او مهربان پاچا واړه خدمتګاران دی .

میرمن طاهری د خپل

میره له وفات کیدو څخه راوروسته دخپلو لوړو او زامنو تربیه په خپله غاړه اخستی ده سره ددې چی

اقتصادی محدودیتونه ئې لرل ټولنی ته ئې پنځه تنه صالح زامن اولوړی وړاندی کړیدی.

۱ ـ فریدون سرخابی تحصیلات ئې دبکلوریا په سویه دی او په آریانا هوایی شرکت کی وظیفه سرته رسوی .

۲ـ تیمورشاه سرخابی چی د کابل له پوهنتون څخه دانجنیری په شق کی له فارغ

کیدو څخه وروسته یی د ماستری علمی درجه او له لیسانس څخه وروړته درجه ئې له چکو سلواکیی څخه راوړی ده .

۳ـ احمدشاه سرخابی چی دعالی تحصیلاتو د پای ته رسولو نه وروسته شوری

ته واستول شو د انجنیری په شق کی دماستری ددرجی اخستلو او دعسکری مقدس

مکلفیت ددوری تیرولو نه وروسته اوس د ننگرهار د کانال د پروژی په ریاست

کی د ترانسپورت دلوی مدیر په حیث وظیفه اجراکوی .

۴ـ محمد همایون سرخابی

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو لیسانسه چی په امریکا کی ئې هم عالی تحصیلات سرته رسولی دروغتیا د وزارت

دمخصوص قلم دمدیر په حیث ئې وظیفه اجراکوله چی اوس په آسترالیا کی دی.

۵ـ محمد هارون سرخابی دنادریی دلیسی فارغ التحصیل اوس په امریکا کی افغانی محصل دی .

۶ـ میرمن ثریا سرخابی چی دفاریاب په ولایت کی دستاری په ښوونځی کی دمعلمی وظیفه اجراکوی .

۷ـ بلقیس سرخابی چی په نازوویرکتون کی دمعلمی په حیث وظیفه لری .

دریمه ممتازه مور

میرمن طاهره (نوری) د کندهار داوسیدونکی غلام صدیق لور او دښاغلی نور محمد (نوری) ماندینه ده. دغی میرمنی له څو کلو راهیسی چی میره ئې دناروغی له امله تقاعد کړی دی دخپلو زامنو او لوړو له پاره دمور او پلار وظیفی

اجراکړی دی سره ددې چه ددې په کور کی مریض پروت ؤ خپل حواس ئې پریشانه نه کړل په قوی زړه او پوره

جرأت ئې خپل عالی هدف ته چی دصالحو اولادو روزنه ده ځان ورساوه .

میرمن طاهره یوازی دخپل میره دسرکتاب دتقاعد په تنخوا و کولای شول چی خپل لس تنه نارینه اوښځی

اولادونه له علم او پوهی سره آشنا کړی او ټولنی ته د خدمت کولو لار ښوونه

ورته وکړی ، له دې امله چی پخوا په کندهار کی دنجونو

لیسه نه وه او پوهنتون نه لری میرمن طاهری په ځان کړاوونه ومنل او

دخپلو زامنو اولوړو درسولو له پاره ئې په کابل کښی موقتی استوګنه غوره کړه ،

دی میرمنی لاندنی زامن او لوړی دټولنی دخدمت لپاره روزلی دی.

۱ـ محمدحسین (نوری) د

طب دپوهنځی فارغ التحصیل چی اوس په لشکرگاه کښی دجراحی ډاکتر دی .

۲- محمد حسن (نوری) د انجنیری د پوهنځی فارغ التحصیل اوس په افغانی ساختمانی دستگاه کښی خدمت کوی .

۳- عبد القادر (نوری) د کندهار د مشرقی لیسی د اتم ټولگی زده کوونکی .

۴- محترمه نوریه (نوری) د کابل زیږنتون د پیلومه چی اوس د کندهار د مستوراتو د روغتون سرقابله ده.

۵- گل مکی (نوری) د کابل زیږنتون د پیلومه چی اوس د کندهار د مستوراتو په روغتون کی وظیفه اجراء کوی

۶- پیغله برینبنا (نوری) د مستوره غوری د ښوونځی د پښتو ښوونکی .

۷- گلالی (نوری) د کابل د زرغونی د لیسی فارغ التحصیله چی اوس د نادعلی په ولسوالی کښی ښوونکی ده .

۸- گل غوټی (نوری) د کندهار د زرغونی انا د لیسی فارغ التحصیله چی د کندهار په زینب ښوونځی کی ښوونکی او د کندهار د دار المعلمین په ۱۴ ټولگی کښی په زده کړه بوخت ده .

۹- زرینه (نوری) د کندهار د زرغونی انا د (۱۲) ټولگی زده کوونکی .

۱۰- نازو (نوری) د کندهار د زرغونی انا د دوولسم ټولگی زده کوونکی.

د کال خلورمه

ممتاز لامور

هغه مورچی ځان او خپلو زامنو ته ئی نجات ورکړی دی میرمن حبیبه (روستا) د میرزا عبدالواحد لور او د پروان مینی د او سیدونکی محمد حسین ماندینه ده دا (۴۹) کلنه ده

میرمن (روستا) یوازی د خپلو زامنو او لوڼو د پاره نه بلکه د خپلو بن زیو له پاره هم زړه سواندی مورده دی د

خپل میړه د هغو اولادونو د پالنی له پاره هم د مورولی وظیفه په غاړه درلوده چی له بلی ښځی څخه ئی بی موره پاتی شوی ؤ او هغوی ئی د خپلو زامنو او لوڼو سره یوځای تر روزنی لاندی ونیول .

د دې میړه ښاغلی محمد حسین په دار التحریر شاهی کی د کاتب په حیث وظیفه اجرا کوله میاشتنی معاش ئی له درو سو افغانیو څخه نه زیاتیده په دغه معاش باندی د یوی یوولس کسیزی کورنی ګوزاره نه کیده له همدی کبله میرمن حبیبی په میړانه ملاوتړله د خپل میړه سره د مرستی کولو له امله ئی په خیاطی پیل وکړ او لدغی لاری ئی د خپل میړه اقتصاد پیاوړی کړ .

د خپل میړه د مړ کیدو نه وروسته ئی هم ۱۶ کاله دغه کار ته دوام ورکړ او له دغه در که په کمو عایداتو ئی په صبر او حوصله سره ګوزاره وکړه او زامنو او لوڼو ته ئی د پوهی او معرفت زمینه برابره کړه . دی به د ورځی د خپل کور چاری سرته رسولی او د شپی به ئی خیاطی کوله د دې بنزیان د ازدواج سن ته ورسیدل او ودونه ئی وکړل په دې وخت کی میرمن حبیبی (روستا) ته یوازی د خپلی اولادی د روزنی مسئولیت پاتی شو او په لږ و عایداتو سره ئی صالح زامن او لوڼی وروزلی د دې د زامنو او لوڼو تعلیمی سویی او مصرفیتونه ئی په لاندی ډول څرګندیږی .

۱- دکتور عبدالعلی (روستا) د ابن سینا په روغتون کی جراح ډاکتر .

[نور به ۲۰ مخ کی]

بناغلی الحاج حبیب الله [سرپاس]

عجب

له ناوړو عادتو څخه یو عجب دی چی عرفاً او شرعاً بد بلل شوی دی. عجب د عین په ضمه سره خود بینی او ځان لیدلو ته وایل کیږی او له هغو ناوړو خصایلو څخه شمیرل شوی دی چی د جهالت څخه بروز کوی او حسنه اعمال تباه او برباد وی او خپل عامل په جامعه کی سپک او بی قدره کړ ځوی یعنی هغه څوک چی پخپلو اعمالو ویاړی او په دی سره مغرور وی چی زه تر نورو خلکو هم په ظاهری شکل او صورت او هم په باطنی خوی او خاصیت کی مزیت او فضیلت لرم نور خلک دونه لیاقت او پوه والی نلری او په دی سره فخر کوی یعنی خپل خوی وخاصیت او اعمال وده ته ښه ایسی او خپل بد اعمالو ته ئی فکر نه وی بلکه ستر گی ځنی پوټه وی او گر سره ئی په یاد نه راولی بالعکس د نورو خلکو خطاوی او گناهونه پر گوتو باندی یو، یو حسابی او دځانه سره وایی چی زه تر هغو خلکو چی په بدو اعمالو اخته وی ډیر ښه او فضیلت لرم نو دغه وضعیت ته چی د نفسی خواهیشاتو پر مقتضا باندی بناء وی او تر نورو ځان افضل بولی عجب او فاعل ته ئی معجب ویل کیږی.

د عجب ډیر اقسام او شکلونه دی په علم سره عجب کول په عمل سره عجب کول، په حسن او ښایست سره عجب کول، په ملک او مال سره عجب کول بلکه هر هغه شی چی د نفس په مطابعت د نورو خلکو څخه خپل عامل دده په نزد ممتاز گرځوی هغه عجب دی.

معجب سړی تل په روحی فشار اخته وی، د خلکو څخه مراعات غواړی چی هر چیری دده مراعات او عزت باید وی که چیری دده دخواهش او آرزو په اندازه ئی چا عزت ونه کی فوری په زړه کی خوړل کیږی او هغه سړی ته چی دده مراعات ئی ندی کړی د دښمنی په ستر گه گوری او که ئی دوسه وسی انتقام هم ځنی اخلی مقصد معجب سړی تل د خلکو سره په زړه کی په دعوی او جنگ اخته وی هیڅوک د ځان سیال نبولی او غواړی چی د اخپل فوقیت په هر قیمت او هره توگه چی امکان لری پر نورو باندی ومنی او خلک وده ته په احترام قایل سی که د خلکو له خوا دده د آرزو په اندازه کوم عکس العمل ښکاره نسو دی د دښمنی په مقام کی دریږی که دښمنی یی دلاسه پوره نه وه په زړه کی عداوت ورسره اختیاره وی ځکه چی رسول اکرم [ص] کبر او عجب نفاق بللی دی یعنی عجب د خلکو په منځ کی نفاق راولی ځکه معجب سړی تل خپل افعال ستایی او پر نورو باندی بدوایی چی په نتیجه کی دډیرو مناظرو، ومباحثو او مناقشو څخه د خلکو په منځ کی جدایی پیدا کیږی او یو دبل په دښمنی او خرابی پسی ملاوی تړی چی دغه ته نفاق ویل کیږی.

[د ۱۹ مخ پاتی]

ممتازه میندی

۲- د کتورس عالیه (روشن) د میوند واټ په کلینیک کی د کوچنیانو ډاکتره.

۳- میرمن حلیمه د ابن سینا د روغتون د اخله سرهمشیره.

۴- محمد موسی چی د ناروغی له امله ئی خپل تعلیمات له نهم ټولگی څخه جگ نشوای کړای اوس په سیلو کی د ټاپیستی وظیفه اجرا کوی.

۵- محمد محسن د دې بن زی د انجنیری د پوهنځی لیسانسه چی اوس په بولیتخنیک کی وظیفه لری.

۶- معصومه د حبیبی روستاد میړه وریره چی له نهم ټولگی څخه فارغ کیدو نه وروسته یی ازدواج کړیدی

دښاغلی [سړبن] تتبع اوغونډونه

د کندهار هغه نادره شعراء چی د زمانې په مختلفو ادوارو کی تیر شوی دی

ابو القاسم خواجه احمد ابن حسن میمندی کندهاری:

حاجی سیف الدین عقلی د آثار الوزرا په کتاب کښی لیکی چی خواجه احمد حسن میمندی د سبکتګین په زمانه کښی د بست حاکم ؤ په نسبت د منسوبیدو د څه خیانت په دار کول سوزوی خواجه احمد ابن حسن چی د سلطان رضایی ورور او په یوه مکتب کی سره تربیه سوی وه د خپل ښه خلقیت او فضیلت په برکت ئې په سلطنتی دربار کی هومره اقتدار درلودی چی وزیران ئې وګرزته نه شوای رسیدلای په ابتدا کی د سلطان محمود د پاچهی ئې د مخصوص دفتر د مشرتوب عهده درلودله په پای کی ئې خپل شخصی لیاقت او د سلطان عنایت درجه لوړ کړله څو د مستوفی الممالک او د وزارت ورتبی ته جګ شو او په عین حال کی ئې د لښکر د تنظیم دنده هم په غاړه کښی وه میرزا عبد العظیم ګرګانی خپل د املا په کتاب کښی د پورتنی لیکنی په تائید لیکی چی شیخ الجلیل ابو لقاسم د یمین الدله د دفتر څراغ ؤ د ټولو مخصوصو فرمانونه او نورو خصوصیاتو کلی له ده څخه وه له حیث څخه د فضیلت، علمیت او تجربی ئې په ټوله خراسان کی ساری نه درلودی هغه کارونه چی ده د بست د حکومت په زمانه کی وکړله سلطان ئې په حیرت کښی واچاوه د آثار الوزرا کتاب وایی د همدغو خدمتو اثرو چی د ټوله خراسان کل اختیاره حاکم مقرره شو دا هغه زمانه وه چی سلطان پر ابو العباس باندی د ځینو وجوهاتو له وجه وتښتېدی او بندی ئې کی.

نو خواجه احمد ابن حسن ئی وګماری چی خراسان ته ولاړ شی او د هغه ځای له خلکو څخه خراج ټول کی کله چی نو موړی سره له ډیرو تحفو او رضائیت خطر د خاطر راغی نو سلطان په بدل کی د هغه د وزارت منصب ورکی ابو العباس پخوانی وزیر په دې نسبت چی په عربی نه پوهیدی نو دفترونه ئی ټوله دری کړی وه.

مګر دی چی په عربیت کښی استاد او منلی سړی ؤ بیرته ئی امر وکی چی فرامین او مکاتیب دی عربی شی

بدبختانه چی وروسته تر ۱۹ کاله وزارت د حاسدانو د غندنی په اثر برطرفه او څو عمر ئی په عزلت او بیکاری سره تیر کی اما وروسته تر دې چی سلطان مسعود ته د دوی خبری ټوله درواغ او بی حقیقته ثابتی شولی نو پسله عذرخواهی ئې بیرته په وزارت مقرره کړ درې نیم کاله ئې لا نه وه تیر شوی چی په ۴۲۴ سنه کی وفات شو پدې مدبر وزیر پوری چی هر څه

اتهامات تړل شوی دی حقیقت نلری بلکه د اخلاق او دیانت یوه مجسمه نمونه ده

مرحوم منشي محمد کریم کندهاری

۹۰ کاله د مخه هغه وخت چی د پښتو مدنیت پروره پاچا امیر شیرعلی خان ژوندی ؤ، زموږ وطن بعضی پوهان او ویښ خلک درلوده چی دوی وطن ته پرلوړ مدنی اصولو ترقی ورکی او د نوی دنیا بعضی نوی لوازم او عصری شیان دلته تهیه کی داوېښه ډله لکه جمال الدین افغان غوندی مشاهیر پکښی وه چی دویښ او وطن خواه پاچاه تر سیوری لاندی روزل کیدله .

اما متاسفانه چی وروسته ترلږی کامیابی یوه مدهش انقلاب دوی سره جلا کړه یوله دغو پوهانو خلکو څخه مرحوم منشی محمد کریم کاکړ کندهاری دی چی دده څخه یو عالی اثر هم پاته دی او اوس ئی موږ په هغه سبب پیژنو او غواړو چی د احساس ادیب له نوم ورکی څخه وباسو ده د اعلیحضرت امیر شیرعلی خان په عصر کی حساس او یو ژنرال (سرغټ مشر) ؤ د داود شاه خان په فرمایش د اقوام المسالک فی بیان احوال الممالک نومی کتاب چی د سید خیرالدین تونسی اثر دی له عربی څخه په دری ترجه کړی دې چی یوه قلمی نسخه ئی دده په خپل خط مالیدلی ده له ترجمی څخه د فراغ زمانه ئی دوشنبی لسمه د جمادی الاول ۱۲۸۴ هجری سنه ده په دیباجه کی د کتاب ئی د اعلیحضرت امیر شیرعلی خان معارف خواهی او علمی تشویقات او د هغی دوری درجالو مخصوصاً د مرحوم جنرال داود شاه خان علم دوستی او د وطن خواهانه احساسا تو ذکر کړی وو د دې کتاب مترجم سړی دی چی د داسی نوی عصری، مدنی اثر ترجمه ئی کړې ده او دا کتاب به لومړی یا دوهم کتاب وی چی په افغانستان کی د دفتری مدنیت او علم پر اصولو لیکل شویدی .

امیر

امیر داسی معلومیږی چی د تلوکان د پوپلزو څخه ؤ او دده ژوند موږ په ۱۳۰۰ حدودو کی ټاکلای شو او د ۹۵ کالو په سن مړ شوی دی امیر ښه عالم فاضل او ویښ پښتون ؤ علاوه د دې نه زموږ د ملی ژبی پښتو حساس انتقادی او اجتماعی شاعرو امیر په بذله گویی کی هم ډیر شهرت درلود په کندهار کی تر اوسه د ادب د خاوندانو په خولو کی دده ظریف او شوخ بیتونه پاتی شوی دی دده د دیوان څخه داسی معلومیږی چی د ژوند آخیرنی شپی او ورځی ئی په گرشک کی تیری کړی دی زموږ د ملی ژبی پښتو په شعراؤ کی دا ډیره نادره ده چی شاعر دی د پښتو د دیوان نه علاوه دری او عربی دیوان ولری امیر د پښتو ژبی په هغه ډله کښی شمیرل کیږی چی په پښتو، دری او عربی ژبو کښی دیوانونه لری د پښتو دیوان ئی په کندهار کښی ډیرو خلکو لیدلی دی په دې اواخرو کی هم د اطلاعاتو او کلتور په عامه کتابخانه کښی چه لیدل شویدی. (پاته لری)

مصاحبې او مرکې

په کندهار کې په تیرو ۴۹ کلونو کې د پوهنې انکشاف

په پراخه پیمانه صورت موندلی دی

په همدې ورځو کې چې د کندهار د دارالمعلمینو، لیسو، او نورو ښوونځیو او تعلیمي مؤسسو کلنۍ ازموینه شروع وه زموږ راپورترانو د راپورونو د تهیې په منظور پکښې اشتراک وکې زموږ د پوهنې عمومي چهره او د ځینو مؤسسو د ازموینې د جریان څخه ئې عکسونه او راپورونه تهیه کړه چې موږ ئې لنډیز د لته راوړو :

په عالي دارالمعلمین کې د ازموینې جریان

د اساسي دارالمعلمین د ازموینې یو اړخ

په عالي دارالمعلمین کې

په کندهار کې عالي دارالمعلمین د یوې عالي تعلیمي مؤسسې په شکل د پوهنې د وزارت د معلمینو د تربیې د ریاست له خوا جوړ شوی دی او اوس ۱۰۰ تنه شاګردان لري د دې مؤسسې شاملین ښځې او نارینه معلمان دی.

د کندهار دارالمعلمین په ۱۳۴۷ کال کې په کندهار کې تأسیس شو.

دا مؤسسه دوې څانګې لري چې یوه ئې د خدمت داخل څانګه ده.

د کندهار دارالمعلمینو لوی مدیر ښاغلی عبدالمنان وویل چې د دغې مؤسسې ازموینې په تحریري توګه واخیستل شو خو یوازې د ژبې مضامین لکه دري، پښتو، او انګلیسي په تحریري او تقریري توګه وه.

د دارالمعلمینو ازموینې دوې هفتې دوام کوي.

په اساسي دارالمعلمین کې :

دا مؤسسه د لومړنیو ښوونځیو د پاره معلمان تربیه کوي.

پدې مؤسسه کې د کندهار، هلمند، روزګان، فراه او نورو تودو سیمو د ولایاتو د نهم ټولګي فارغان شامل دي.

په دې مؤسسه کې د ساینس او اجتماعیاتو

مضامین تدریس کیږی خوسربیره پردی داساسی دارالمعلمین ددواړو مضامینو شاملین مکلف دی چی د معلمی اختصاصی او مسلکی مضامین هم زده کړی.

دا دارالمعلمین او وه لس ځانګی لری او هغه شاملینو ته د ۴۰ تنو معلمینو له خوا تدریس کیږی. زده کوونکی ئی د لیلیی په درس بوخت دی.

ددغی مؤسسی یوی منبع وویل چی دزده کوونکو د استفادې لپاره کتابخانه، لابراتوار او سمعی او بصری وسایل هم شته دی.

یونسکو یوازی هغه علمی مؤسسه ده چی ددغه تعلیمی مؤسسی د پراختیا لپاره په افغانستان کی د پوهنی وزارت ته د تعلیمی موادو، لوازمو او درسی موادو د تهیی له لپاری مرسته کوی.

پدې مؤسسه کی د ۵۶۰ تنو شاملینو له جملی څخه ۵۵۴ تنه په کالنی ازموینه کی شامل او ۶ تنه محروم شوی دی.

ددې مؤسسی ترڅنګ یو مسلکی کورس هم چی تعلیمی موده ئی یو کال ده تاسیس شوی دی.

مسلکی کورس: دوولسمه ټولګی د هغه فارغانو د پاره ده چی غواړی د معلمینو په حیث په ښوونځی کی تدریس وکړی.

پدې کورس کی چی اوس اوه ویشت تنه شامل دی د معلمی او اصولو تدریس اختصاصی مضامین د عالی دارالمعلمین د معلمینو او استادانو له خوا تدریس کیږی په عکس کی د اساسی دارالمعلمین د ځینو شاګردانو د کالنی تحریری آزموینی یوه صحنه وینی.

د احمدشاه بابا په لیسه کښې

د احمدشاه بابا په لیسه کی د کالنی ازموینی یوه منظره

دا یوازینی تعلیمی موسسه ده چی په کندهار کښی یی لومړی ځل لیسی ته ارتقا کړیده.

د احمدشاه بابا لیسه په ۱۳۱۷ کال کی تاسیس شوی او اوس ۱۳۵۰ تنه شاګردان لری.

د احمدشاه بابا د لیسی مدیر ښاغلی ګل محمد مشرقی وویل چی د لیسه ۲۲ ځانګی لری او زده کوونکی له اوم ټولګی څخه تر دوولسم ټولګی پوری په درس بوخت دی.

د لیسه لابراتوار او کتابخانه هم لری چی زده کوونکی په رسمی وخت او پسله تعلیمی وخته له هغو څخه استفاده کوی.

د احمدشاه بابا په لیسه کی ۳۰ تنه معلمین شته سربیره د احمدشاه بابا د لیسی ۱۷ دوره فارغان

ټولنی ته وړاندی کیږی .
پدې آزموینه کی یوشمیر زده کونکو د بیلو بیلو ولایاتو څخه د سامع په ډول پخوا د پوهنی د وزارت څخه د آزموینی د تیریدو امرونه اخستی دې هم شامل شوی وه .
دازموینی صحنه په ښه تو دوالی دوام کاوه .

د میرویس نیکه په لیسه کښی

د میرویس لیسې ته په ۱۳۳۱ کال کښی د لیسی درجه ورکړه شویده .
څرنګه چی د هغی لیسی مدیر ښاغلی محمد انور صدیق زی وویل :
اوس پدې لیسه کی ۷۵۹ تنه زده کوونکی شامل دی خو په آزموینه کی ۶۷۲ تنه شامل شویدی .
پدې لیسه کښی ۲۷ تنه معلمین د زده کونکو د تعلیم او تدریس وظیفه پر غاړه لری چی سږ کال به د دوولسم ټولګی څخه ۵۳ تنه شاګردان فارغ شی .
دا لیسه چی د منزلباغ د خامه سړک پر څنګ واقع او ۱۸ څانګی لری د لیسی د مدیر په قول سږ کال دازموینی نتیجه ښه ده .

د میرویس نیکه په لیسه کی د کالنی آزموینی یوه منظره

د زرغونی انا په لیسه کی

د زرغونی انا لیسه د لوی احمدشاه بابا د مورد نامه په ویاړ یاده شوی او د کندهار د نجونو لومړنی لیسه ده چی په ۱۳۲۷ کال کی د ابتدایی په ډول تاسیس شوی وروسته تر هغی چی څو دوری فارغ التحصیلانی یی ټولنی ته وړاندی کړی دی په ۱۳۳۶ کال کی ئې منځنی ښوونځی ته ارتقا وکړه او په ۱۳۴۱ کال کی د لیسی درجه ورکړه شوه .

د دغی لیسی مدیر ښاغلی محمد نبی [محمدی] د مرکی په ترڅ کی وویل پدې

د زرغونی په لیسه کی د کالنی ازموینی یوه برخه

لیسه کی ۵۸۰ تنی زده کړیانی په درس بوختی دی .

دلیسی څخه ابتدایی دوره یعنی دلومړی ټولګی څخه تر څپړمه پوری دابتدایی ازرغونی په نامه په ۱۳۴۶ کال کی جلا شوه او اوس دا لیسه ۱۵ څانګی لری چی دا وم څخه تر دوولسم ټولګی پوری ده .

ښاغلی (محمدی) زیاته کړه چی لیسه ۴۲ معلمانی او معلمین لری چی دلیسانس عالی دارالمعلمین بکلوریا په سویه دی .

دې لیسی وروسته تردی چی لیسی ئې ارتقا وکړه تر اوسه یی پنځه دوری د دوولسم ټولګی فارغ التحصیلانی ټولنی ته وړاندی کړی دی چی د کندهار په بیلو بیلو ښوونځیو او څانګو کی کار کوی سږ کال ئې شپږمه دوره فارغ التحصیلانی په ټولنه کی د خدمت لپاره قدم ږدی .

په مشرقی لیسه کښی

دمشرقی دلیسی زده کوونکی دازموینی په حال کی

دمشرقی ښوونځی د کندهار دښار لومړی ښوونځی ده چی په ۱۳۰۰ کال کی تأسیس شوی ده څو دوری دشپږم ټولګی زلمیان ئې فارغ التحصیل کړی او ټولنی ته ئې وړاندی کړیدی .

وروسته ئې په ۴۲ کال کی متوسطی ته ارتقاو کړه او درې دورې دنهم ټولګی فارغ التحصیلان ئې لیسو ته ولیږل .

دمشرقی لیسی ته په ۴۸ کال کی دلیسی درجه ورکړه شوه او اوس ۲۰۰۰ تنه زده کوونکی درس پکښی وائی .

ددغی لیسی مدیر ښاغلی محمد انور ایازی وویل چی دا لیسه اوس ۸ څانګی لری چی ۲۰ څانګی ئې دسهار او نوری ئې دماپښین له خوا په درس بوختی دی .

دلیسی دمعلمینو شمیر ۳۳ تنو نه رسیږی چی ټول له دبکلوریا او عالی دارالمعلمین په سویه دی دوویل دمعلمینو دتدریس اصول دقناعت وړدی .

دا لیسه دسپورټ مضمون هم لری او هلکان ئې دسپورټی لوبو سره زیاته علاقه څرګنده وی خو د سپورټ میدان او نور وسایل تر اوسه پوری نه لری او دا احمد شاه بابا دلیسی دسپورټ له میدانو څخه استفاده کوی .

ښاغلی (ایازی) زیاته کړه دا ښوونځی دلیسی په سویه مجهز لابراتوار او کتابخانی ته ضرورت لری او هم موږ پدې هڅه کی یو چی دتدریس دوسایلو دغه نیمګړتیاوی ژر ترژره پوره او دهلکانو د استفادې لپاره تیارشی .

په عکس کی تاسو دمشرقی دلیسه دشاګردانو دکالنی ازموینی یو ګوښه وینی .

په احمد شاهی منځنی ښوونځی کی

احمد شاهی منځنی ښوونځی په ۱۳۱۵ کی د ابتدائی په ډول تاسیس شوی او څو دوری د شپږم ټولګی فارغ التحصیلان یی ټولنی ته وړاندی کړی دی چی ځینو یی په لیسو کی هم خپل درس ته دوام ورکړی دی .

وروسته بیا په ۱۳۴۶ کال کښی یی منځنی ښوونځی ته ارتقاء وکړه ښاغلی غلام محمد (اخګزی) د ښوونځی مرستیال یوی مرکی په ترڅ کی وویل اوس ۱۴۸۰ زده کړیان پدی ښوونځی کی شامل دی چی د هغی جملی څخه ۱۳۷۵ تنو د سږ کال په کلنی آزموینه کښی ګډون کړی دی .

د احمد شاهی منځنی ښوونځی زده کوونکی د کالنی آزموینی په حال کی

ښاغلی غلام محمد زیاته کړه چی زموږ ښوونځی ۳۲ ځانګی لری چی د سهار او ماپښین لخوا تدریس پکښی کیږی .

د ده د هم وویل : چی زموږ په ښوونځی کی برسیره پر نورو معلمانو ډیری پوهی اورسیده نجونی د معلمی ستره وظیفه اجرا کوی .

ښاغلی غلام محمد وویل زموږ د معلمینو او معلماتو شمیر ۳۸ تنو ته رسیږی چی ټول د بکالوریا او عالی دارالمعلمین په سویه دی .

د دې ښوونځی د نهم ټولګی څخه به سږ کال ۸۰ تنه فارغ التحصیل شی .

په عکس کی تاسو د دغی ښوونځی یو شمیر شاګردان د کالنی تحریری آزموینی په حال کی وینی

د فاضل کندهاری په منځنی ښوونځی کی

زموږ خبریال د فاضل کندهاری د منځنی ښوونځی د کالنی آزموینی جریان له نژدی څخه کتلی او د یوې مرکی په ترڅ کی چی د ښوونځی د مرستیال سره ئی کړی ده لیکی چی د فاضل کندهاری په منځنی ښوونځی کی ۵۵۰ تنه هلکان شامل او د دغی جملی څخه ۵۰۰ تنه په آزموینه کی شامل او ۵۰ تنه نور ئی د غیر حاضری او نور وعلتو له کبله د آزموینی څخه محروم شول .

دفاضل کندهاری منځنی ښوونځی ۱۳ ځانګی لری او زده کونکو ته ۱۴ تنه معلمان تدریس کوی .

اوهم ښوونځی یوسر معلم او یو مرستیال لری دښوونځی مرستیال ښاغلی سلطان محمد (رحیمی) وویل چی دزده کونکو تعلیمی سویه دتیر کال په نسبت ډیره ښه شوی ده دښوونځی سرمعلم ښاغلی سید عبدالغفار (رؤفی) وویل چی دهلکانو دتعلیمی سویی ښه والی ددوی دزحمت او دمعلمینو دښه تدریس نتیجه ده .

دلته تاسو پدې عکس کی دفاضل کندهاری دمنځنی ښوونځی دشاګردانو دکالنی تحریری از موینی یوه صحنه وینی .

دفاضل کندهاری دمنځنی ښوونځی زده کونکی دآزموینی په حال کی

دعینو په منځنی ښوونځی کښی

دعینو ښوونځی چی په ۱۳۴۵ تعلیمی کال کی دلومړی درجی څخه منځنی درجی ته لوړه شوی ده دکندهار دارګ په ساحه کی واقع ده .

زموږ دمرکی په ترڅ کی چی دښوونځی دمحترمی معاونی میرمن رقیه (فیض) سره وسوه دی دیوې پوښتنی په جواب کښی وویل :

دغی ښوونځی په تیر تعلیمی کال کی خپله لومړی دوره فارغ التحصیلانی و زرغونی انالیسی ته دتحصیل ددوام لپاره لیږلی دی .

دعینو دمنځنی ښوونځی زده کونکی د آزموینی په حال کی

دغه رنګه نوموړی زیاته کړه چې اوس پدې ښوونځی کې ۸۶۳ تنې درس وایي چې دهغې جملې څخه ۸۴۰ تنې په ازموینې کې شاملې شوې دي .

دې د شاګردانو د آزموینې اخیستلو د طرز، د معلمانو پیش آمد او د نجغود تیاری څخه خوښې ښکاره کړه .

د ښوونځی شل ځانګې لري .

د کندهار په میخانیکي ښوونځی کې

د کندهار د میخانیکي ښوونځی کالنی آزموینې پای ته ورسیدې او نتایج ئې شاګردانو ته څرګند شول .

د میخانیکي ښوونځی مدیر ښاغلی محمد عظیم (ناصر) دهغه ښوونځی د ۱۳۴۹ تعلیمي کال د کالنی آزموینې نتیجې دهغه ښوونځی شاګردانو ته څرګندې کړې .

ښاغلی (ناصر) وویل چې د کندهار میخانیکي ښوونځی ۲۸۲ زده کوونکي لري چې د هغو له جملې څخه ۲۶۹ تنه په آزموینه کې شامل او نور کسان محروم شوه .

د میخانیکي ښوونځی د کالنی آزموینې یوه صحنه

د دغه جملې څخه ۱۹۸ تنه بریالي ۶۴ تنه مشروط، ۱۳ تنه محروم او ۷ تنه ناکام شوي دي .
ښاغلی ناصر دا هم وویل چې سږ کال له لسم ټولګی څخه ۵۹ تنه هلکان فارغ شوي دي .
په پورتنی عکس کې د میخانیکي ښوونځی د کالنی آزموینې یوه صحنه لیدل کیږي .

همداسې د کندهار په ۲۹ لومړیو او ۸۶ کلیوالي ښوونځیو کې آزموینه په ډیر منظم ډول د تودوالي په حال کې جریان درلود .

همداسې د پوهنې یوې منبع د کندهار د پوهنې د عمومي بڼې د څرګندولو په هکله وویل!
په تیرو ۴۹ کلونو کې ۲۵۰۰۰ تنه او په هر کال کې نژدې ۴۶۰ تنه زده کوونکي د پوهنې د زده کوونکو په شمیر باندې زیات شویدي .

په کندهار کې د پوهنې یوې منبع وویل چې په کندهار کې د پوهنې بنسټ په ۱۳۰۰ کال کښې کښېښودل شو او هغه وخت یوه ښوونځی د تجارت د ښوونځی په نامه په کندهار کې تاسیس شوه .

منبع داهم وویل چی دغی ښوونځی هغه وخت ۲۰۰ تنه شاګردان درلوده اودمرحوم مولوی صالح محمد له خوا اداره کیده .

منبع څرګنده کړه چی ددغی ښوونځی د جوړیدو نه وروسته چی اوس دمشرقی دلیسی په نامه یادیږی او په تیر تعلیمی کال کښی

له متوسطه څخه لیسی ته جګه شوه دوه نور لومړنی ښوونځی [دبردرانی ښوونځی] او د[کنج ښوونځی] په نامه د کندهار په ښار کښی یوه په بل پسی تاسیس شوه .

منبع دیوې مرکی په ترڅ کی وویل تر ۱۳۰۰ کال دمخه په کندهار کی په رسمی توګه کومه ښوونځی ،وتعلیمی مؤسسه نه وه موجوده .

د۴۹ کلونو په تیریدو سره د کندهار په پوهنه کی له پوی خوا د کمیت او دبلی خوا

د کیفیت په لحاظ ډیر مهم تغیر منځ ته راغی چی دهغه په اساس یولړ لومړنی ښوونځی، لومړی دښار په حوزو کی اووروسته د کندهار

په مربوطاتو کی تاسیس شولی اود کلونو په تیریدو سره دغه ښوونځیو له لومړنی سویی څخه د متوسطی او بیا دلیسی په درجه ارتقا وکړه .

اوس په کندهار کی څلور لیسی ۹ متوسطی ۳۹ لومړنی ښوونځی او ۸۶ کلیوالی ښوونځی شته چی ټول ۲۵۰۰۰ تنه هلکان اونجونی

په درس پکښی بوخت دی.

د ۱۳۴۸ و ۱۳۴۹ تعلیمی کال په موده کښی د کندهار د پوهنی په چوکاټ کی درې لیسی نوی جوړیږی او (اته) لومړنی ښوونځی د متوسطی په درجه ارتقا کوی او هم شپږ لومړنی ښوونځی شپږ کیلوالی ښوونځی نوی جوړیږی.

په آخر کی منبع وویل سږ کال د کندهار د ولایت د مربوطه لیسو څخه ۲۲۴ تنه فارغ التحصیلان زوښځی جامعی ته وړاندی شوه .

دزرغونی لیسی زده کړیانی د لابراتوار په ځانګه کی د لوست په حال کی لیدل کیږی.

فلسفی درس

یو شاګرد وویل کله چی موږ زده کونکو لومړی کال د فلسفی په ویلو شروع وکړه نو موږ او زموږ استاد دواړه د فلسفی مطلبونه نه ترا درک کړای شوای او پوهیدو په دوهم کال کی یوازی زموږ استاد پوهیدی نه موږ مګر په دریم کال کی نه زموږ استاد پوهیدی او نه موږ [دن یادی ژباړه.

طاقت د جهان د هغه لوی توان ؤ قدرت څخه ځان خلاص کړی چې هغو د کړې ؤلسونو پر اکثریت باندې حکمرانې کول او پدې ؤلسونو کې داسې لاهم وه چې د نفوس د تعداد په مقایسه تر موږ شل چنده بلکې ډېر بالاوه خو دوی نسواې کولاې چې د اروپا د دې استعمارګر دولت په مقابله را اوپاڅېږي په هغه وخت کې یوازې همدا افغان ؤلس ؤ چې دا کارنې وکړ.

۵۲ کاله د مخه چې موږ خپل د اطبعي حق چې د څه وخت د پاره مو د لاسه وتلی ؤ بېرته تر لاسه کاوه زموږ جنګي او دفاعي وسائل د استعمارګر انګلیس د جنګي وسایلو ته د تش لاس حکم درلود، خو موږ د خپل ملي قدرت او اتحاد او شهامت ؤ مردانګي په زور هغه کارونکي چې برزه ورتوب او مېړانه مو هغه وخت ډېرو آزادي خوښوونکو ؤلسونو د اروپا ئي ځینو ؤلسونو په شمول د آفرین لاسونه پورته کړه.

او زموږ د کارنه یوازې د اچې موږ ئې د خپلواکۍ څښتنان کړو بلکې د هغه درس ؤ چې د ایشیا اکثرو ؤلسونو ته مو ورشروع کړ او د زماني په مرور سره ئې د جهان نورو برخو ته هم سرایت وکړ همدا دی چې بدا شلمه پېړۍ کې د جهان ؤلسونو یو په بل پسې وآزادۍ ته ورسېدل او اوس چې هغه د جهاني لوی قوت څښتن انګلیس او د نړۍ څو نور استعمارګر دولتونه د ځانګړو سره حساب وکړي

نو هغه خپله چارې د یوالې به ورپاته وي کومه چې د نړۍ په جغرافیه کې یوازې: دوی په خپلو نو مو ثبت ده.

موږ ته د دې نیکمرغي لویې ورځې د تلین به تاریخ کې هغوی خپلو سرتیرو نیکه ګانو ته چې د دې ګران افغانستان د پاره ئې د سر-بازي په ډګرو کې ګډون کړی او خپلې وینې ئې توی کړې دی د احترام او درناوي په نیت سرټیټوؤ او د هغه جهان د لوی پوړ د رجا توغوښتنه ورته کوو.

ډاکټر سوکارنو وفات سو

د اندونیزیا پخواني جمهور رئیس ډاکټر سوکارنو چې د اندونیزیا د آزادۍ له قهرمانانو او د نړۍ لوی شخصیت ؤ د جوزا په ۳۰ نېټه د شپې وفات شو.

دی چې نهه شپېته کلن ؤ په دې وختو کې د هغې ناروغۍ په اثر چې د وینې د زیات فشار او د پښتورګو د فعالیت د نقصان په نسبت ورپیښه شوې وه د جاګارتا په یوه روغتون کې بستری شوی ؤ.

مرحوم ډاکټر عبدالرحیم سوکارنو

د ډاکټر سوکارنو د وینشت کاله د هغه هیواد د جمهور رئیس په حیث وظیفه اجرا کړیده

له ۱۹۶۷ کال نه راپدې خوا چې خپل ټول اختیارات یې د هغه هیواد او سنې رژیم نه چې مشر یې جنرال سوهارتو دی وسپارل جاکارتا ته نیژدې پخپل آستوګنځي کښې اوسید.

دخپلواکی څلمی